د افغانستان اسلامي امارت

د ارشــــاد، حـــج او اوقافـــو وزارت

د مساجدو او حُسَیْنِیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست

دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد

دمرکز او ولایاتو ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

۱۸/ جمادی الأولی/۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ۸ /عقرب /۱۴۰۵هـ، ش

د اوبو د کمښت ستونزې، د اسراف مخنیوی او د اوبو سم استعمال زمونږ دیني او ټولنیز مسئولیت دی.

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، وأصلي وأسلم على من بعث رحمة للعالمين، وعلى آله وأصحابه، ومن اهتدى بهديه، واستن بسنته إلى يوم الدين.أما بعد: قال الله سبحانه وتعالى:(وكُلُواْ وَاشْرَبُواْ وَلاَ تُسْرِفُواْ إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ).(١)

درنو حاضرینو او اوریدونکو!

السلام علیکم ورحمة وبرکاته.

زمونږ د نن ورځې تقریر او بیان د یو داسې ستر نعمت په اړه دی چې زموږ ژوند، روغتیا، کرنه، مالداري، پاکوالی او د ټولنې اقتصادي پرمختګ ورسره تړلی دی؛ هغه نعمت اوبه دي.

په اسلام کې د ابو ارزښت، او د اوبو د ضائع کیدو مخنیوی :

د اسلام په مبارک دین کې اوبه د الله تعالی ستر نعمت دی، چې د ټولو ژوندیو مخلوقاتو ژوند ور پورې تړلی دی او پرته له اوبو څخه د ځمکې په کُره باندې ژوند ناممکن دی. په هره اندازه چې د ځمکې په سر د اوبو د کمښت ستونزه زیاتیږي په هماغه اندازه د ځمکې په سر ټول ژوندي او نیمه ژوندي مخلوقات له ستونزو او مشکلاتو سره مخ کیږي ؛ حتی چې د اوبو د کمښت ستونزه په ټول چاپیریال منفي اغیزه پرې باسي.

د اوبو د ارزښت په اړه الله تعالی په قرآن کریم کې فرمايي:(وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ).(٢)

ترجمه: او له اوبو نه مو هر شي ته ژوند وربښلی دی ایا دوی یې نه مني؟

دا آیت موږ ته د اوبو اهمیت رانښیي. د ژوند د ډیرو بنو بقا له اوبو سره تړلې ده، او انسان باید د دې نعمت په اړه فکر وکړي، د الله تعالی شکر ادا کړي او د هغه په ساتنه کې بې پروایي ونه کړي.الله تعالی په بل ځای کې فرمایي:(وَاللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَابَّةٍ مِنْ مَاءٍ).(٣)

ترجمه: او الله پاک ټول خوځیدونکي له اوبو نه پیدا کړي

همدارنګه، الله تعالی د باران په وسیله مړه ځمکه ژوندۍ کوي او له هغې څخه نباتات او میوه داره ونې راشنې کوي. په دې توګه اوبه د الله تعالی د قدرت، رحمت او نعمت یوه څرګنده نښه ده.

١ -الاعراف: (٣١)

٢ -الأنبياء:(٣٠)

٣- النور:(٤٥)

الله تعالی فرمايي:(وَهُوَ الَّذِي أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ).(٤)
ترجمه:او همغه ذات دی چې تاسې ته يې له بره نه اوبه رانښکته کړی او په همدی اوبو يې هر څه را زرغون کړي دي.

کله چې باران وشي،چينې رواني شي، سيندونه ډک شي او څمکه شنه شي، بايد د الله تعالی شکر ادا کړو، خو شکر يوازې په ژبه د «الحمد لله» ويلو ته نه وايي؛ بلکې د اوبو د نعمت سمه کارونه، د هغه ساتنه او له ضايع کېدو څخه يې مخنيوی د شکرحقيقي معنا ده.
د الله تعالی په قدرت سره اوبه د ټولو ژونديو انسانانو،حيواناتو او ژونديو ژوو لپاره د ژوند وسيله ده . په معاصر ژوند کې انسانان اکثره کاروبار او د ژوند ضرورتونه د بحرونو د اوبو څخه پوره کوي او د انرژي مواد له اوبو څخه استخراجوي. اوبه دي چې مونږ يې څښو ، کالي پرې وينځو، خپل جسمونه ورباندې پاکوو، حيواناتو ته يې د څښاک لپاره ورکوو او خپل باغونه، باغيچې ، سبزيجات ور باندې خړوبه وو، لکه چې الله جل جلاله فرمايلي دي:(وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُوراً * لِنُحْيِيَ بِهِ بَلْدَةً مَيْتاً وَنُسْقِيَهُ مِمَّا خَلَقْنَا أَنْعَاماً وَأَنَاسِيَّ كَثِيراً * وَلَقَدْ صَرَّفْنَاهُ بَيْنَهُمْ لِيَذَّكَّرُوا فَأَبَى أَكْثَرُ النَّاسِ إِلاَّ كُفُوراً).(٥)
ترجمه: او همدا مونږ يو چې له بره مو پاکې او پاکوونکی اوبه ليږلي دي. تر څو پرې مړه ښارونه ژوندي او هغه ډير څاروي او انسانان چې موږ پيدا کړي دي پرې خړوب کړو. او مونږ يو چې د باران اوبه د هغوی په مينځ کې ويشو تر څو پند واخلي خو زيات خلک د کفر او ناشکرۍ نه پرته بله لار نه نيسي.

په يو بل مبارک آيت کې الله تعالی د اوبو اهميت داسې ذکر کوي:(هُوَ الَّذِي أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لَكُمْ مِنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ * يُنْبِتُ لَكُمْ بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ وَالأَعْنَابَ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَةً لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ).(٦)

ترجمه: الله هغه ذات دی چې له بره نه يې تاسې ته اوبه رانښکته کړي هم يې څښئ او هم پرې هغه ونې او بوټي زرغونيږي چې تاسې پکې خپل څاروي څروئ. او په همدې اوبو يې تاسې ته کښت، زيتون، د خرماوو او انګورو ونې او هر ډول ميوې راشنی کړي. رښتيا چې د غور کوونکي قوم لپاره په دې کې لوی دليل دی.

که يو انسان د اوبو نعمت ولري، خو بې ځايه يې مصرفوي، د څښاک اوبه ککړوي، د نورو خلکو د اوبو حق تر پښنو لاندې کوي او د راتلونکو نسلونو حقوق له پامه غورځوي، نو د هغه څخه به د دې ستر نعمت په اړه پوښتنه کيږي. لکه چې په حديث شريف کې راځي.
عن أَبى هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« إِنَّ أَوَّلَ مَا يُسْأَلُ عَنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَعْنِي الْعَبْدَ مِنْ النَّعِيمِ أَنْ يُقَالَ لَهُ أَلَمْ نُصِحَّ لَكَ جِسْمَكَ وَنُرْوِيكَ مِنْ الْمَاءِ الْبَارِدِ».(٧)
ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: بيشکه اول هغه شی چې پوښتنه به يې کيږي د بنده څخه د قيامت په ورځ د نعمتونو په باره کې هغه دا چې ورته به وويل شي آيا مونږ تاته روغ جسم نه ؤ درکړی او ته مو نه وې خړوبه کړی په يخو اوبو سره؟.

د اسلام مقدس دين د اوبو په حفاظت او نظافت باندې خپلو پيروانو ته امر کړی دی او ورته يې ويلي اوبه چې د ژوند اساسي سرچينه ده د هغې په حفاظت او نظافت اهتمام وکړئ. لکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل امت ته توصيه کړی ده چې په ولاړو اوبو کې غسل مه کوئ او په ولاړو اوبو کې متيازې مه کوئ .

٤ -الأنعام:(٩٩)
٥ -الفرقان:(٤٨-٥٠)
٦ -النحل :(١٠-١١)
٧ -سنن الترمذي (٥/ ٤٤٨)

په حديث شريف کې راځي.عن أَبي هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَغْتَسِلْ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ وَهُوَ جُنُبٌ» فَقَالَ: كَيْفَ يَفْعَلُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: «يَتَنَاوَلُهُ تَنَاوُلًا».(٨)

ترجمه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت ، هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: غُسل دې نه کوي يو له ستاسې څخه په ولاړو اوبو کې حال داچې هغه جنبي وي. راوي وايې چې څرنګه به کوي اى ابو هريره رضي الله عنه ؟ حضرت ابو هريره رضي الله عنه ورته وويل: راخلي به اوبه (په لاس يا په لوښــې سره) په را اخيستلو سره. (څکه په ولاړو اوبو کې که د جنابت غُسل کوي اوبه نجسي کوي او چټلوي يې).همدارنګه رسول الله صلى الله عليه وسلم د اوبو په شاوخوا کې د ډکو متيازو کولو څخه منع کړې ده او داسې يې فرمايلي دي:«اتَّقُوا المَلاعِنَ الثلاثَةَ: البَرازَ في المَوَارِدِ، وقارِعَةِ الطَرِيقِ، والظِّلِّ».(٩)

ژباړه: ځانونه وساتئ د درې لعنتي (ځايونو) څخه (يعنې هغه ځايونه چې خلک په هغه چا لعنت وايې چې څوک په دغو ځايونو کې ډکې متيازې کوي) : قضـاء حاجت کول اوبو ته په تلونکې لاره کې او (قضـاء حاجت کول) په منځ د لاره کې او(قضـاء حاجت کول) د سيوري لاندې.

الف: اسلامي شريعت کې په اوبو کې اسراف او د اوبو ناسم استعمال ممنوع دى.

لکه مخکې مو چې يادونه وکړه چې د اوبو د کمښت د ستونزې په سبب د اوبو اسراف او د اوبو ناسم استعمال دى. اسلامې شريعت د اوبو د اسراف او ناوړه استعمال مخه نيولې ده او په اوبو کې اسراف يې منع کړى دى.الله تعالى فرمايي:(وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ).(١٠)

ترجمه: وخورئ او وڅښئ خو اسراف مه کوئ څکه چې الله پاک اسراف کوونکي نه خوښوي

په يو بل مبارک آيت کې الله جل جلاله د اسراف او تبذير څخه په حيث د يوې قاعدې منع کړى ده او فرمايلي يې دي: الله تعالى فرمايي:(وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا * إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ).(١١)

ترجمه: او بې ځايه لګښت مه کوه. په دې کې شک نشته چې بې ځايه لګښت کوونکى د شيطانانو وروڼه دي .

دا آيت د تبذير او اسراف د نهې لپاره د قرآني قاعدې او اساس په توګه الله تعالى ذکر کړى دى. دا مبارک آيت د مال په ناروا ځايونو کې د لګولو او په مال کې اسراف څخه انسان منع کوي او هم په اوبو کې د اسراف څخه مونږ منع کوي.

ابو البرکات النسفي ددې آيت په معنا کې ليکي:(ولا تسرف إسرافا).(١٢) اسراف مه کوه په اسراف کولو سره.

آن تردې چې اسلام شريعت په اودس کې هم داوبو د اسراف څخه منع کړې ده. رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو اصحابو ته د اوداسه پر مهال هم د اوبو د اسراف څخه منع فرمايلې ده.

له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د سعد رضي الله عنه په خوا کې په داسې مهال تيرشو چې حضرت سعد رضي الله عنه اودس کولو (او په اوبو کې يې اسراف کول) نو رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت سعد رضي الله عنه ته وفرمايل:«مَا هَذَا السَّرَفُ يَا سَعْدُ؟» قَالَ: أَفِي الْوُضُوءِ سَرَفٌ؟ قَالَ: «نَعَمْ، وَإِنْ كُنْتَ عَلَى نَهْرٍ جَارٍ».(١٣)

٨- صحيح مسلم (١ /٢٣٦)

٩- سنن أبي داود ت الأرنؤوط(١ /٢١)

١٠- الأعراف:(٣١)

١١ - الإسراء:(٢٦-٢٧)

١٢ - تفسير النسفي(٢ /٢٨٤)

١٣ - سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (١/ ٢٧٢)، مسند أحمد مخرجا (١١ /٦٣٧)

ژباړه: ای سعده! دا څه اسراف دی؟ سعد رضي الله عنه ووېل: ايا په اوداسه کې هم اسراف شته؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هو، که څه هم ته د روان نهر پر غاړه يې.

په يو بل حديث شريف کې راځي. عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: رَأَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يَتَوَضَّأُ، فَقَالَ: «لَا تُسْرِفْ، لَا تُسْرِفْ». [١٤]

ژباړه: د عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې وليده رسول الله صلى الله عليه وسلم يو سړی چې اودس يې کولو. نبي عليه السلام ورته وفرمايل: اسراف مه کوه ، اسراف مه کوه.

دا روايتونه د اوبو د سپما په اړه ډېر مهم پيغام لري. د دې روايتونو معنا دا ده چې د اوبو ډېر شتون هم انسان ته دا اجازه نه ورکوي چې بې ځايه يې ضايع کړي. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې څوک د اودس پر مهال يو اندام د درې ځله څخه زيات ووينځي ، نو هغه تجاوز او ظلم وکړ.

عمرو بن شعيب، له خپل پلار(شعيب) څخه روايت کوي او شعيب له خپل نيکه عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روايت کوي ، عبدالله بن عمرو بن العاص وايي:«جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُهُ عَنِ الْوُضُوءِ؟ فَأَرَاهُ ثَلَاثًا ثَلَاثًا، ثُمَّ قَالَ: «هَكَذَا الْوُضُوءُ فَمَنْ زَادَ عَلَى هَذَا فَقَدْ أَسَاءَ وَتَعَدَّى وَظَلَمَ». [١٥]

ژباړه:يو اعرابي(بانډه چي) رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې د اوداسه په باره کې پوښتنه کوله.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته د اوداسه غړي درې درې ځله مينځل ور وښودل او ورته يې وفرمايل:همدا اودس دی

څوک چې له دې څخه زياتوالی وکړي، نو بد کار يې وکړ، له حد څخه واوښت او ظلم يې وکړ.رسول الله صلى الله عليه وسلم په اوداسه کې د اوبو په استعمال کې زيادت افراط ګڼلی دی.

له عبدالله بن مغفل رضي الله عنه څخه روايت دی چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل، هغه فرمايل:«إِنَّهُ سَيَكُونُ فِي هَذِهِ الْأُمَّةِ قَوْمٌ يَعْتَدُونَ فِي الطُّهُورِ وَالدُّعَاءِ». [١٦]
ژباړه: زما په امت کې به داسې خلک پيدا شي چې په پاکوالي او دعا کې به افراط کوي او له حده به تېرېږي.
له دې حديث څخه څرګندېږي چې په طهارت او دعا کې هم بايد له افراط څخه ډډه وشي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم لارښوونې عملي شي.

امام نووي رحمه الله د اوبو د اسراف په اړه د علماوو د نظر په بيانولو سره ليکلي دي:«أَجْمَعَ الْعُلَمَاءُ عَلَى النَّهْيِ عَنِ الْإِسْرَافِ فِي الْمَاءِ وَلَوْ كَانَ عَلَى شَاطِئِ الْبَحْرِ». [١٧]

ژباړه: علماوو په اوبو کې له اسراف څخه په منع باندې اجماع کړې ده، که څه هم انسان د سمندر پر غاړه وي.

د دې وينا موخه دا ده چې د اوبو ډېر شتون هم د بې ځايه مصرف دليل نه شي کېدای.

[١٤] - سنن ابن ماجه(١ /١٤٧)
[١٥] - السنن الكبرى للنسائي (١ /١٠٦)، سنن أبي داود ت الأرنؤوط (١/ ٩٥)، سنن ابن ماجه (١/ ١٤٦)
[١٦] - سنن أبي داود ت الأرنؤوط (١/ ٧١)
[١٧] - شرح النووي على مسلم (٢/ ٢٠)

اسراف دا دی چې انسان له اړتیا څخه زیات مصرف وکړي او د اوبو نعمت بې‌ځایه ضایع کړي.

په اوبو کې د اسراف او ناسم استعمال مثالونه په لاندې توګه دي:

- د اوداسه پر مهال د اړتیا څخه زیاتې اوبه کارول.
- د غابښونو د برس کولو یا د لوښو مینځلو پر مهال د نل پرانیستی پرېښودل.
- د موټر، انګړ او فرشونو د مینځلو لپاره بې‌ځایه ډېرې اوبه مصرفول.
- د څښاک پاکې اوبه په داسې کارونو کې ضایع کول چې بدیلې اوبه پکې کارېدلی شي.
- د اوبو د پایپونو د خرابوالي او لیکېدو په اړه بې‌پروایي کول.

د اوبو د کمښت د ستونزو پایلې یوازې د اوبو کمښت نه دی؛ بلکې د کرنې زیان، د څارویو د مړینې خطر، د خوړو د تولید کمېدل، د ناروغیو د خپرېدو امکان، اقتصادي ستونزې او د خلکو ترمنځ د شخړو د رامنځته کېدو لامل ګرځي.

ب: د اوبو د کمښت ستونزې مهم اسباب:

اوبه د الله تعالی له سترو نعمتونو څخه دي.خو له بده مرغه، په ډېرو سیمو کې د اوبو کمښت، د ځمکې لاندې اوبو د سطحې ټیټېدل، د وچکالۍ زیاتېدل، د اوبو بې‌ځایه مصرف، د چینو او ویالو وچېدل او د اوبو سرچینو ککړېدل جدي ستونزې ګرځېدلې دي.
له همدې امله، د اوبو ساتنه یوازې اقتصادي یا چاپېریالي موضوع نه ده، بلکې د دیني لارښوونو، انساني اخلاقو او ټولنیز مسؤلیت یوه مهمه برخه ده.
د اوبو کمښت یوه ستره سیمه ایزه او نړیواله ستونزه ده چې طبیعي او انساني دواړه لاملونه لري. د اوبو د کمښت مهم اسباب په لاندې ډول دي:

۱-د بارانونو او واورو کمېدل.د بارانونو او واورو کمېدل د اوبو د کمښت له مهمو طبیعي لاملونو څخه دي. بارانونه، واورې او د غرونو واورین پوښ د سیندونو، چینو، بندونو او ځمکې لاندې اوبو د سرچینو په تغذیه کې مهم رول لري. کله چې بارانونه کم شي، د اوبو سرچینې وچېږي او د څښاک او کرنې لپاره د اوبو اندازه راکمېږي.
الله جل جلاله ددې ستونزې په اړه فرمایي:(قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَاؤُكُمْ غَوْراً فَمَنْ يَأْتِيكُمْ بِمَاءٍ مَعِينٍ).[۱۸]
ترجمه:ای محمده!ووایه پدې مې پوه کړئ که ستاسې اوبه په ځمکه کې ښکته لاړې شي نو څوک شته چې روانې او خوږې اوبه درته راولي.

۲.د اقلیمي بدلونونو اغېزې.د اقلیم بدلون د تودوخې د لوړېدو، د وچکالۍ د زیاتېدو او د بارانونو د نامنظم کېدو لامل کېږي. د تودوخې په لوړېدو سره اوبه په چټکۍ تبخیرېږي، د غرونو واورې ژر ویلې کېږي او په ځینو سیمو کې د اوبو طبیعي زېرمې کمېږي او د اوبو د ستونزه رامنځ ته کیږي.

۳. وچکالي.وچکالي هغه حالت دی چې په یوه سیمه کې د اوږدې مودې لپاره بارانونه کم یا بند شي. وچکالي د سیندونو، کاریزونو، چینو او څاه‌ګانو د اوبو د کمېدو او کله ناکله د بشپړ وچېدو سبب کېږي. او د اړتیا وړ اوبه کمیږي او د اوبو د کمښت ستونزې زیاتوي.

٤. د ځمکې لاندې اوبه په غیر مسئولانه توګه راویستل.د څاه‌ګانو، برمو او پمپونو له لارې د ځمکې لاندې اوبه بې‌حسابه را ویستل د اوبو د کمښت مهم انساني لامل دی. که له ځمکې څخه د را ویستل کېدونکو اوبو اندازه د بارانونو او نورو سرچینو له لارې د بېرته ورزیاتېدونکو اوبو څخه زیاته وي، د ځمکې لاندې د اوبو سطحه ښکته کېږي او څاه‌ګانې وچېږي او د اوبو د کمښت موضوع را منځ ته کیږي.

---

۱۸ -الملك: (۳۰)

۵. د اوبو اسراف او ناسم استعمال. په کورونو، جوماتونو، مدرسو، مکتبونو، کروندو، باغونو او کارخونو کې د اوبو بېځایه مصرف د اوبو د کمښت ستونزه لا پسې زیاتوي. د نلونو خلاص پرېښودل، د اوداسه پر مهال اسراف، د موټرو او انګړونو په مینځلو کې د ډېرو اوبو ضایع کول او د اوبو د نلونو او پایپونو نه ترمیمول د اوبو د کمښت ستونزه زیاتوي.

٦. په کرنه کې د اوبو ناسم مدیریت. زیاتې اوبه په کرنه ، کر کیله او د فصلونو په خړوبولو کې مصرفیږي.د پخوانیو او ناسم اوبه خور ، د ویالو له لارې د اوبو ضایع کېدو، بې وخته کرنې او فصلونو ته اوبه ورکول او په نامناسبو وختونو کې د اوبو لګولو له امله ډېرې اوبه ضایع کېږي، چې له امله یې د اوبو د کمښت ستونزه رامنځ ته کیږي.

۷. د ځنګلونو وهل او د نباتاتو له منځه وړل. ونې او نباتات د خاورې په ساتنه، د باراني اوبو په جذب او د طبیعي چاپېریال په توازن کې مهم رول لري. د ځنګلونو وهل د خاورې تخریب، د سیلابونو زیاتوالی او د باراني اوبو د ځمکې لاندې سرچینو ته د رسېدو کمښت رامنځته کوي، چې د ځمکې په سطحه کې د اوبو د کمښت ستونزې لامل ګرځي.

۸. د اوبو د زېرمه کولو او مدیریت کمزورتیا. د بندونو، زېرمتونونو، د اوبو د وېش شبکو او د باراني اوبو د راټولولو د مناسبو سیستمونو نشتوالی د دې لامل کېږي چې د بارانونو او سیلابونو ډېرې اوبه بې ګټې تېرې شي. همدارنګه د اوبو د وېش کمزوری مدیریت او د پایپونو خرابوالی د اوبو د ضایع کېدو سبب کېږي.

۹. د جګړو، بې‌ثباتۍ او کمزوري اقتصادي وضعیت اغېزې. جګړې د اوبو د رسولو شبکې، بندونه، څاه‌ګانې او نور بنسټیز تأسیسات زیانمنوي. په جګړو کې د کیمیاوي مواد او زهرجنو موادو استعمال د نورو زیانونو ترڅنګ دبارانونو او واورو د ورښت په کمیدو کې رغنده رول لوبوي چې له امله یې د ځمکې په سطحه باندې د اوبو د کمښت ستونزه رامنځ ته کوي.

ج: د اوبو د کمښت مخنیوی زمونږ دیني او ټولنیز ګډ مسؤلیت دی.

د اوبو ساتنه یوازې د حکومت، ښاروالی، د اوبو رسولو ادارو یا بزګرانو مسؤلیت نه دی؛ بلکې هر انسان پکې برخه لري.

الله تعالی فرمایي:(وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ).[١٩]

ترجمه: په نیکۍ او تقوی کې لاس ورکړئ په ګناه او تیرې کې یو بل ته لاس مه ورکوئ.

د دې آیت له لارښوونې سره سم، د اوبو د ساتنې لپاره باید په ګډه کار وکړو. د اوبو د کمښت مخنیوی د ټولنې مختلفو خلکو له لارې ممکنه ده چې تفصیل یې په لاندې توګه دی:

۱—د کورنیو له خوا د اوبو د کمښت مخنیوی: د کورنیو خلک که هغه د کور میرمن ده او یا نور د کور غړي دي باید د اوبو لیکېدونکي نلونه او پایپونه ژر ترمیم کړي، د غاښونو د برس کولو پر مهال نل وتړلي، او د لوښو او جامو مینځلو پر مهال اوبه په مناسبه اندازه مصرف کړي. د جامو مینځلو ماشین د اخیستلو پر مهال باید داسې ماشین واخلي، چې د لږو اوبو د مصرف ځانګړی پروګرام ولري.

د پخلنځي د لوښو د وینځلو پر وخت اوبه کمې مصرف کړي او داسې ونه کړي چې د نل اوبه په دوامداره توګه روانې پرېښودل شي.

د پخلي پر مهال باید سبزي او نور خوراکي توکي په یوه له اوبو ډک لوښي کې پاک کړي او د اوبو د نل استعمال تر ممکنه بریده کم کړي.

---

١٩ - المائدة:(٢)

۲-په تشناب او حمامونو کې د کمښت مخنیوی اوبو سپما کول:

د کورنۍ خلک باید د اوبو نلونه په منظم ډول وګوري، څو د اوبو د څڅېدو او ضایع کېدو مخه ونیول شي. د اودس او غسل کولو وخت باید لنډ کړي او اوبه باید په بېځایه توګه ضایع نه کړي. په حدیث شریف کې راځي . عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يَتَوَضَّأُ بِالْمُدِّ وَيَغْتَسِلُ بِالصَّاعِ إِلَى خَمْسَةِ أَمْدَادٍ».(۲۰)

ژباړه: د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې نبي علیه السلام به په یو مُدْ باندې اودس کولو او په یوه صاع باندې تر پنځو مُدونو پورې به یې غسل کولو.(چې یو مد مساوي دی د(۱.۰۳۱۸۲۵) لیتره سره او یوه صاع مساوي ده د (۴٫۱۲۷۳۰) لیتر سره او پنځه مده مساوي دي د(۵.۱۵۹۱۲۵) لیتره سره .([۲۱])

د اوبو پر نلونو باید داسې وسایل ولګوي، چې د اوبو جریان کم کړي.د کور دننه او بهر د اوبو نلونه باید په دوامداره توګه وڅاري او د اړتیا پر مهال یې ترمیم کړي.

۳- د جامو په وینځلو کې د اوبو کمښت رعایتول او اوبه سپما کول: د هرې کورنۍ خلک باید د جامو مینځلو پروخت اکثره زنانه ډیرې اوبه مصرفوي چې باید ددې کار څخه ډډه وشي .همدارنګه باید هره کورنۍ په اونۍ کې د جامو د مینځلو وختونه تنظیم کړي او ماشین بېځایه او په تکراري ډول چالان نه کړي، بلکې ماشین هغه وخت وکاروي، چې د جامو مناسبه اندازه راټوله شوې وي.

۴-په تشناب کې د زیاتو اوبو د مصرف مخه باید ونیول شي ترڅو اوبه سپماشي: د اوبو نلونه باید په منظم ډول وکتل شي، څو د اوبو د څڅېدو او ضایع کېدو مخه ونیول شي.د سر د وینځلو پر مهال باید څو وارې د اوبو نل پرانستل شي او د اوبو نل پرانیستی پرې نښودل شي او اوبه بېځایه روانې پرې نښودل شي.

۵- په جوماتونو کې د اوبو سپما : د جومات خادم او عام خلکو له خوا د اوداسه ځایونه باید په داسې ډول تنظیم شي چې د اوبو ضایعات کم شي. د جومات امامان او مسؤلین باید خلکو ته د کمو اوبو لګولو په اړه معلومات پوهاوی ورکړي.

٦- په کرنه کې د اوبو سپما : بزګران دې خپلو فصلونو، باغونو د اړتیا مطابق اوبه ورکړي، د اوبو د ویالو د ضایعاتو مخه دې ونیسي، دهقانان او د باغیچو او باغونو خاوندان باید کوښښ وکړي چې د څاڅکي سیستم اوبه‌خورۍ طریقې دې وکاروي.

۷- په ښوونځیو، پوهنتونونو، مدرسو او دفترونو کې د اوبو د مصرف مخنیوی کول او اوبه سپما کول : استادان، مدرسین، شیوخ، اداري پرسونل باید په زده‌کوونکو ټینګار وکړي چې کمې اوبه استعمال کړي او د اوبو له استعمال وروسته نلونه وتړي.اضافي اوبه باید په هوښیارانه ډول وکارول شي؛ د بېلګې په توګه، د ښوونځي د باغ د واښو او بوټو د خړوبولو لپاره دې وکارول شي. د پوهاوي لپاره دې په ښوونځي، مدرسه او پوهنتون کې داسې لوحې او پوسټرونه ولګول شي چې د د زیاتو اوبو د لګولو زیانونه په کې بیان شوي وي او داوبو د سپما اهمیت او د اوبو د سم استعمال لارې چارې په کې بیان شوي وي.زده کوونکي دې وهڅول شي چې په خپلو بوتلونو کې پاتې اوبه د ښوونځي د باغ بوټو ته واچوي، څو د باغ د خړوبولو لپاره د اضافي اوبو اړتیا کمه شي.په هغو ښوونیزو فعالیتونو کې چې اوبو ته اړتیا لري، د نل د پرانیستي پرېښودلو پر ځای دې له سطل څخه کار واخیستل شي.

---

۲۰ - صحیح مسلم (۱/ ۱۷۷)

۲۱ دار الافتاء دارالعلوم دیوبند فتوی شمیره: (۱۰٦۸)، فتاوی حقانیه ج، ۲، ص: ٦۰۴.

زده کوونکو ته دې په دوامداره توګه یادونه وشي چې د نل له استعمال وروسته، او په ځانګړي ډول د لاسونو د وینځلو او اودس کولو پر مهال، اوبه بندې کړي.له دفتر همکارانو، د پوهنتون محصلینو او زده کوونکو او د ښوونځي له ټولو کارکوونکو څخه دې د اوبو د سپما لپاره نوښتګرې نظریې او عملي وړاندیزونه وغوښتل شي.په ښوونځي کې دې د اوبو د سپما عصري وسایل وکارول شي؛ لکه د لږو اوبو مصرفوونکي شاورونه او تشنابونه.

۸- په عامه ځایونو کې د اوبو دمصرف مخنیوی کول او د اوبو سپما کول :

د اوبو او زراعت ادارې او نورو ذیربطو ادارو له خوا دې د اوبو د نلونو، عامه چینو، کاریزونو او ویالو ساتنه باید وشي. که یو نل خراب وي یا اوبه بې‌ځایه بهېږي، اړوند مسؤلینو ته دې خبر ورکړل شي.

۹- د باراني اوبو او موسمي واورو ذخیره کول او سپما کول:

خلک او د کلیو او کورونو اوسیدونکو او د زراعت او آبیاری ادارې له خوا دې په حولیو، تپو کې ، دښتو او نورو مناسبو ځایونو کې د باراني اوبو او واورو د راټولولو، ذخیره کولو او ساتلو لپاره باید داسې لارې چارې تر لاس لاندې ونیسي، چې د ځمکې لاندې اوبو د تغذیې، کرنې او نورو مشروع اړتیاوو سره مرسته وکړي. اوس چې د ژمي موسم راتلونکی دی زمونږ او ستاسې ټولینیز مسئولیت دی چې په کورونو کې د اوبو او واورو جذبي څاګانې وباسو او کوښښ وکړو چې د ژمې واورې عبث کوڅو او ویالو ته ونه بهیږي ؛ بلکې د ژمي اوبه او واورې ویالو کې او جذبي څاګانو کې وساتو ترڅو د اوړي په موسم کې واورې اوبه شي او په کرنه کې ورڅخه استفاده وشي او د اوبو دڅښلو څاګانې وچې نشي.

استغفر الله لي ولکم ولسائر المسلمین ، فاستغفروه ، انه هو الغفور الرحیم

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.